# درپیمې پارلماني ټاکنې؛ د فلسطین د مسالې د نرمولو لپاره یو نوی فصل

فلسطیني ګوندونه په قاهره کې سره راټول شول او د پارلماني، ولسمشرۍ او ملي شورا په ټاکنو یې موافقه وکړه. ایا دا ټاکنې به هم لکه تېر ځل د یهودو د قوي کولو او د فلسطین د موضوع د نرمولو لپاره یو بل نوی فصل وي؟

دا ټاکنې له شاوخوا سیاسي حالاتو نه شي خلاصیدای او له دغو لاندې حالتونو سره تړاو درلودلای شي:

۱. د امریکا د دولت پلان، تر څو خپلې ګټې خوندي کړي، د یهودو دولت وساتي او د تسلیمیدو خبري بیرته پیل کړي.

۲. د الله او د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم سره د عربي هېوادونو خیانت او له یهودو سره نرمښت.

۳. د الله تعالی له دښمن امریکا سره د جوردان امنیتي تړون؛ هغه چې په ترڅ کې یې امریکا تر پنځلس زیاتو ځمکني، بحري او هوایي اډو ته لاره وموندله او سربېره پر دې یې امریکایي ځواکونو ته په جوردان کې د ازاد تګ راتګ اجازه ورکړه. د امریکا په واسطه د جوردان اشغال؛ د هغه پلان او هدف بر اساس و، چې امریکا په سیمه کې د خپلو ګټو او خپل تربیه شوي اولاد اسراییل د ساتلو لپاره یې ترتیب کړی و.

۴. د قوي دولتونو په واسطه پر فلسطیني ګوندونو فشار راوستل، څو د فلسطین له ازادۍ سازمان سره یو ځای شي، هغه چې اکثرو یې فلسطین له لاسه ورکړی او له یهودو سره یې خبرواترو او سوله  ییزه لاره انتخاب کړې ده.

۵. د دغو غونډو ترتیبات او ټاکنو ته د ګوندونو رضا کول د الله سبحانه وتعالی او دهغه د رسول صلی الله علیه وسلم د دښمن او د امریکا لاسپوڅي السیسي لخوا تر سره شول.

د دې منشا تر شا به د فلسطین ټاکنې تر سره شي او د فلسطین د نرمولو موضوع د امریکا په نوې اداره او یوه نوي پړاو کې ده، چې  د ټرمپ له پلان سره له یو څو جزیي مواردو پرته چنداني توپیر نه لري. خلاصه غواړي مسجد القصا ګډ نهاد جوړ کړي او غربي تراړه کې د یهودو له دولت سره  ځینې سیمې ورګډې او په زور یا په رضا د غزې د ګوندونو بې وسلې کول دي. له دې سره سره به د خلیج دولتونو او یهودو یووالی هم جوړ شي، چې جوردان او مصر به پکې شامل وي. دا به مناسبه نه وي چې د فلسیطن د ازادۍ سازمان هغه خیانت هېر شي، چې د دې سپیڅلې خاورې زیاته برخه یې یهودو ته وړکړه، د اوسلو د موافقې تر چتر لاندې او امنیتي همکاریو او بې ګټو خبرواترو په نتیجه کې په غربي تراړه کې یهود په بېسارې توګه ځای پر ځای شول او په دې سره یې دا ټولو ته واضح کړه، چې د فلسطین حکومت خبرواترو ته غاړه ایښې او د عباس-المرت کړنې خو ټولو ته معلومې دي.

دا هغه سیاسي حقیقت و، چې تر شا به یې د فلسطین ټاکنې تر سره شي. دا د اسلام د دښمنانو لخوا  داسې پلان شوي، چې که هر څوک ټاکنې وګټي بیا به هم دوی خپله موخه لاسته راوړي. د دغو ټاکنو شرطونه دا دي، چې یو داسې فلسطیني حکومت واک ته ورسیږي، چې هغه له یهودو سره امنیتي همکارۍ  جایز

وبولي، د اسلام دښمن ته کار وکړي او د هغو د کارونو د ذمه‌دارۍ اخيستلو لپاره په سيمه کې يو لاس پوڅي دولت جوړکړي او داسې حرکتونه او سازمانونه، چې د دوی تر چتر لاندې به کار کوي، رامنځ ته کړي؛ هغه چې د دوی د چټلو پيسو په زور به ساتل کيږي، د فلسطين ټاکنې بل څه نه دي، مګر د اسلام د دښمن وسيله او اسباب او که د دوی په ګټه کار کوي، نو بيا دوی هغه ساتي او که يې دا پکې تر سترګو نه شول، نو بيا يې مخه نيسي او که يې پايله د دوی د خوښې سره سمه نه وه، بيا به دوی د ټاکنو پر بل مخ اړولو کې هيڅ ځنډ ونه کړي. د استعمار تر چتر لاندې ټاکنې يوازې د اشغال د خدمت او د اسلام د دښمن په ګټه دي.

**[وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ]** (هود:۱۱۳)

***ژباړه:*** *ددغو ظالمانو لوري ته يو بڅرى مه كږيږئ، كه نه نو دوزخ به مو ونغاړي. تاسي به كوم داسې دوست او سرپرست ونه مومئ چې له الله تعالی څخه مو وژغورلای شي او له هيڅ يو ځای څخه به تاسي ته مرسته ونه رسيږي.*

اې د رحمت د خاورې خلکو! موږ د ټاکنو د صلاحيت او استازيتوب خبرې نه کوو. او يا دا چې د هغه څه صلاحيت ورکول، چې الله سبحانه وتعالی منع کړي، ګناه ده او د الله سبحانه وتعالی د قهر سبب ګرځي. يا د هغه قانون جوړونکو شور وو، چې له الله سبحانه وتعالی سره په قانون ايښودو او حکومت کولو کې مجادله کوي، شرک او د طاغوت قاعده وبولو او دا د وروستۍ ډيموکراسۍ شرم دی، چې فساد يې د هغه په مور (امريکا) کې ښه ځرګند دی. موږ ټاکنو ته له دې زاويې نه دي کتلي، که څه هم هر يو د هغه د حراموالي او په هغه کې د ګډون حراموالي لپاره ثبوت شي. خو موږ يې دلته پر تياره سياسي اړخ تمرکز کړی دی، چې د هغه په واسطه د اسلام دښمنان د مسلمانانو او په خاصه توګه د فلسطينيانو پر وړاندې دسيسې جوړوي او خلک که هغه لرې وي که نيږدې په دې پوه شي، چې ان په کمه کچه هم په دې ټاکنو کې ګډون، لوی جرم او ګناه ده، ځکه دا د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم د دښمانانو لخوا په غولوونکو دسيسو کې ګډون دی.

اې د رحمت د خاورې خلکو! د الله سبحانه وتعالی دښمن (امريکا) په دې پوهيږي چې اسلامي امت له خپلو زولنو څخه د خلاصون په حال کې دی او پوهيږي چې اسلام د مسلمانانو په زړونو کې د اورغورځونکي په څير دی او ژر به د دوی پر غلامانو را وخوټيږي او اور به يې د دوی ګټې وسوځوي. د لويو دولتونو غټ مجرمين په دې ښه پوهيږي، چې د خلافت تاسيس يوازې د وخت خبره ده او په دې لاره کې د حزب التحرير جديت ښه ويني او ځانونه د هغه لپاره تياروي، هر ځای کې د دعوت کوونکو د نيولو په لټه کې وي او د هغه لپاره موانع ايجادوي، دغه راز فکر کوي، چې په هغه سره به يې مخه ونيسي. د الله تعالی دښمنان غواړي، چې د سرطان دانه (يهود) په اسلامي نړۍ کې مدغم کړي او د اسلامي هيوادونو د کمزوره کولو لپاره اخته دي. همدارنګه د دوی سيمې يې د جنګ مرکزونه جوړ کړي، څو راپورته نه شي. دوی نه غواړي چې شام دې ارام شي او يا هم يمن په کراره شي او يا هم عراق بيا تسلي پيدا کړي، دا هغه څه دي چې دوی د هغه لپاره په پاکستان، افغانستان او بنګلديش کې کار کوي. سربيره پر دې د هغو اسلامي هيوادونو، چې په خپل منځ کې اختلافات لري، مخالفي اتحاديې جوړې. د مصر، جوردان او خليج اتحاد، چې په سر کې به يې يهود وي او د شيعه اتحاد، چې ايران او د هغه طرف داران به پکې وي. په دې باندې د اسلام د د ښمنانو ټينګار دی او فکر کوي، چې په دې سره به دوی اسلام امت وټکوي او د خپل زور او غلامانو لخوا دوی سپک او شرمېدلي پاته کړي. دوی دې دا خوبونه ويني، خو

پر نبوي منهج د خلافت راتګ د الله تعالی ژمنه او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم زيری دی او الله سبحانه وتعالی هېڅ کله خپله ژمنه نه ماتوي.

په پای کې موږ پر دې ټينګار کوو، چې د فلسطين موضوع يوازې د سيمې، ګوندونو او ملت موضوع نه ده، بلکې دا د ټول امت موضوع ده او د اسلام دښمنان غواړي چې دا موضوع له اسلام او اسلامي امت څخه جلا کړي. د بيت المقدس ازادول يوازينی لاره ده او له دې پرته بله لاره نه لري، نو په دې خاطر خلافت او د هغه بيا تاسيسولو لپاره د امت او پوځ مرستې ته اړتيا لري، تر څو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د (اسرا) ځای ازاد کړي. د الله سبحانه وتعالی لپاره جهاد او له امت او پوځ څخه د مرستې غوښتنه د فلسطين د موضوع يوازينۍ لاره ده. دا يوه داسې حللاره ده، چې ديهودو موجوديت په خطر کې اچوي او د هغو دا زوړ او خيرن حکومت نسکوروي. دا يو داسې حرکت دی، چې امت د کاميابۍ خوا ته بيايي او هر څوک چې د نيسبي او انتقالي خبرواترو او يا د 1967 کال پولو او يا هم پر نړيوالو پريکړو او سيمه ييزو نوښتونو پر حلاره کار کوي. هغه الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم ته خاين دی او الله تعالی د هغو کارونه نه خوښوي.

د الله تعالی پر نصرت زموږ باور، زموږ د ايمان له امله دی او پر اسلامي امت او د دې پاکې خاورې پر خلکو زموږ ډاډ پرخپل دين د باور څخه دی. د نبوي منهج پر بنسټ د خلافت بيا راتګ د الله سبجانه وتعالی ژمنه اود رسول الله صلی الله عليه وسلم زېری دی. ټوله نړۍ هيلهمنه ده، چې اسلام به دوی د کپيټليزم او جنايتکارو حکامو له ظلم څخه وساتي او الله سبحانه وتعالی دې د رسول الله صلی الله عليه وسلم امت او د هغه طرفداران سره په اتفاق کړي. د مسلمانانو پوځونه به بيت المقدس ته په داسې حال کې داخل شي، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خيبر د نيولو تکبيرات به وايي. «اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ، خَرِبَتْ خَيْبَرُ، إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ ﴿فَسَاءَ صَبَاحُ المُنْذَرِينَ﴾» الله اکبر! الله اکبر! خيبر تباه شوی او هر کله چې موږ دښمن ته د جنګ لپاره ورشو، نو بيا به د هغو لپاره چې موږ خبر کړی وو، ډېر ناوړه حالت وی. (البخاري) د الله تعالی دين به تر هغو خپرېږي، څو چې شپې او ورځې ته ورسيږي. امام احمد د صحيح احاديثو له لړۍ څخه د تميم الداري رضی الله عنه حديث راخيستی، چې ويل يې ما واورېدل چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وويل:

**«لَيَبْلُغَنَّ هَذَا الْأَمْرُ مَا بَلَغَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ، وَلَا يَتْرُكُ اللهُ بَيْتَ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ هَذَا الدِّينَ، بِعِزِّ عَزِيزٍ أَوْ بِذُلِّ ذَلِيلٍ، عِزاً يُعِزُّ اللهُ بِهِ الْإِسْلَامَ، وَذُلاً يُذِلُّ اللهُ بِهِ الْكُفْرَ»**

په حقيقت سره به دا اسلام هغه ځايه پورې ورسيږي، چېرې چې شپه او ورځ رسيږي او هېڅ د خټو او خيمې کور به پاته نه شي، مګر دا چې الله سبحانه وتعالی يې خپل دين ته راوړي، يا به د يوشريف په شرافت باندې وي او يا به د سپک په سپکوالي باندې وي؛ هغه عزت چې په هغه باندې الله تعالی اسلام شريف کوي او بې عزتي چې په هغه سره الله سبحانه وتعالی کفر بې عزته کوي.

نو په الله سبحانه وتعالی چې القوي او العزيز ذات دی باور ولرئ او د الله تعالی په رسۍ پورې ځانونه ټينګ کړئ، د ټاکنو جرم او هغوی چې د دې مسوول دي، رد کړئ، همدارنګه د سرکښانو لپاره الله سبحانه وتعالی دا قول کافي دی.

[أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا * إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَى لَهُمْ * ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ] (محمد۲۴-۲۶)

***ژباړه:*** *ایا دوی پر قران غور نه دی کړی، یا که پر زړونو یې قلفونه وهل شوي دي؟ حقیقت دا دی هغه کسان چې د هدایت له روښانه کېدو څخه وروسته په شا وګرځېدل، د هغوی لپاره شیطان دغه کړنلاره اسانه کړېده او د درواغجنو هیلو لړۍ یې د هغو لپاره اوږده کړېده. له همدې امله دوی د الله تعالی د نازل کړي دین بد ګڼونکو ته وویل، چې په ځینو چارو کې به موږ ستاسي حکم منو. الله تعالی د دوی په دغو پټو خبرو ښه پوهیږي.*

حزب التحریر ـ د ولایه فلسطین مقدسه خاوره

۱۴۴۲هـ.ق، د شعبان ۱۰مه

۲۰۲۱م، د مارچ ۲۱